لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن

۱۹ اکتوبر ۲۰۱۵

## ثبات که بې ثباتي
## که له طالب سره جګړه کوونکی مجاهد وي؟

هغوی چې په بې ثباتي او نا امني کې يې ګټې دي د کومو لاملونو له کبله به سولې ته ترجيح ورکړي، په سوله کې چې ددوی له پاره ځانګړی امتياز نشته، په سوله کې چې دوی خپل واکونه له لاسه ورکوي، خو ديته فکر نه کوي چې همدا سوله به ددوی د اولادونو له پاره اړينه وي، همدا سوله به ددوی جايدادونه او شتمنی خوندي کوي.

د افغانستان قضيه يو مهم پړاو ته ننوځي، دلته د امريکا او روس زورازموينه پيل کيږي، امريکا په اوکراين کې لوبه وبايلله، هغه چې غوښتل يې روسان به د اوکراين سره په جګړه کې ښکيل شي او يا داچې اوکراين به د روسي له نفوذ څخه په بشپړ ډول وايستل شي، داچې تورسمندرګي کې به د روسانو لاس لنډ کړي، يو هم ونه شو.

ښکاري چې امريکا به په سوريه کې هم لوبه روسانو ته وبايلي، نو د روسانو سره د جګړې له پاره امريکا ته افغانستان پاتې کيږي، او په افغانستان کې به د داعش له شتون څخه امريکا ګټه پورته کوي، چې وار له مخه لا انګيرني دادي چې د افغانستان خاوره کې داعش د امريکا په خوښه د پاکستان او افغانستان له لوري قوي کيږي.

پلان به داوو چې کندز او بدخشان د داعش په نوم ډلې ته وسپارل شي، طالبانو هوښياري وکړه او مخکې له دې چې هلته د داعش له پاره سنګرونه قوي شي، هغوی شمال ته ډير ننوتل د داعش مخه يې ونيوله او خپله يې د کندز او بدخشان د نيولو هڅې پيل کړې. چې د کندز ښار مرکز يې د لنډ وخت له پاره تر خپل کنټرول لاندې هم راوستی. او بدخشان کې يې مهمې ولسوالي ونيولې.

### د امريکا خپل سري او د روسانو له خوا ورته تهديد

امريکا به په ټول توان هڅې وکړي چې په نړی باندی خپله مشري وساتي، خو روسان ورته تهديد جوړ شوي، د همدې مشرۍ ساتلو له پاره امريکا په اسلامي نړی کې دهغوی ترمنځ خپلمنځي جګړې پيل کړې، د اسلامي حکومت پر نوم نوې ډله راپيداشوی، او چين ته د تهديد له پاره د يغور د مسلمانانو مشران په بېلابېلو هيوادونو کې ساتل کيږي.

امريکا به په ټول قوت وغواړي چې د افغانستان په شمال کې نا امني زياتې شي تر څو روسان وويروي، او تر ټولو ښه پلان د امريکا له نظره په شمال کې د داعش قوي کېدل و، دابه د بلخ د والي عطاء محمد نور په خوښه کېدل، يو ناڅاپه عطاء محمد نور د امريکا څخه مخ واړاو او له روسانو سره يې خپلې پخوانی اړيکې وپاللې، همدا و چې

امریکا ونه شوای کولای په شمال کې د داعش ډله داسې راپیداکړی لکه چې د افغانستان په ختیځ کې همدا ډله اوس شتون او په ځینو ولسوالیو کې قوت لري.

روسانو هڅې شروع کړي چې د امریکا د تګلارې خلاف د اسلامي هیوادونو سره اړیکې سمې کړي، او که روسان په دې کار کې کامیاب شول، نو بیا به امریکا د نړی یوه لویه برخه چې اسلامي هیوادونه دي له لاسه ورکوي او روښانه ده چې روسان به قوي کیږي، په اوس وخت کې د اسلامي هیوادونوځینې څیرونکي په دی نظر دي چې امریکا د اسلامي هیوادونو د ټوټه کیدو پلان لري، له همدې امله اسلامي نړی مجبوره ده چې روسیې ته ترجیح ورکړي.

روسان چې وایي داعش د امریکا له خوا راپیداشوی او د امریکا د ګټو له پاره کار کوي، په ریښتوني ډول د داعش نه ویره لري، خو داخبره ډیره بې طرفه څیرونکي نه مني چې مرکزي داعش به د امریکا د ګټو له پاره کا رکوي.

اوس چې افغانستان به د امریکا او روسي تر منځ د جګړې یو ډګر وي، معلومه خبره ده چې ګډ حکومت به د امریکا د ګټو خوندي ساتلو او امریکا د بریا له پاره کار کوي، هغه پخواني کمونستان* چې اوس له غرب نه تغذیه کیږي هغوی به هم د امریکا د ګټو له پاره کار کوي، پخواني مجاهدین ځینې یې ممکن د روسانو په پټه او ښکاره مرسته وکړی تر څو امریکا په افغانستان کې هغه څه ترلاسه نه کړي کوم چې غواړي د ډیرې مودې له پاره د افغانستان له خاورې څخه منځنۍ آسیا او چین تهدید کړي.

وروستي راپورونه دادي چې د هیواد په شمالي ځینو ولایتونو کې نوي روسي او ایراني وسلې خلکو ته د ځان د دفاع، طالب او داعش سره د مقابلې په نوم وېشل کیږي، حکومت هم د پلان د عملي کیدو یا کمزوري مدیریت له مخې د نامسؤولو کسانو له خوا د وسلو پر ویش سترګې پټې کړي دي.

که چیرته موږ خپلواکه افغان اداره درلودلای، په اوس وخت کې یې کولای شوای د امریکا او روس له رقابت څخه یې د افغانستان په ګټه استفاده کړي وای، دا ډول کولای یې شوای چې د پاکستان او هند له رقابت څخه استفاده وکړي، کولای یې شوای چې د ایران او پاکستان ترمنځ له جنجال څخه ګټه پورته کړی، او بالاخره کولای یې شوای چې د چین او جاپان ترمنځ له جنجال څخه سالمه استفاده وکړي.

یو بل ښه چانس داهم وو چې له اروپایي ټولنې سره افغانستان ښې اړیکې جوړې کړي وای، خو داچې په تیرو ۱۴ کلونو کې خپلواکه اداره موجوده نه وه، او حکومت د امریکا په خوښه مخکې روان و، نو افغانانو ته داچانس نه و چې د یادو رقیبو هیوادونو له رقابت څخه د خپل ځان په ګټه استفاده وکړي.

### د کرزي په ټیم کې درز

اوس چې پخواني مجاهدین د غنی په حکومت کې د امتیازاتو غوښتنه کوي، او همدا پخواني مجاهدین د پخواني ولسمشر کرزي په شاوخوا راټاویدل، غنی وتوانیدی چې د کرزي او پخوانیو مجاهدینو ترمنځ درز پیداکړی، ډیری پخواني مجاهدین چې له کرزي سره یې یوځای د حکومت پر ځینو تګلارو سختې نیوکې کولې د مجاهدینو د شورا یا ثبات شورا په نوم نږدې ده چې له غني سره هوکړې ته ورسیږي، او غني هغه وخت داکار شونی کړ چې د استاد سیاف په مشرۍ د مجاهدینو د شورا تر اعلان مخکې یې یو شمیر نور پخواني مجاهدین سره راټول او هغوی د [جهادي کوندونو د یووالي شورا](#) اعلان وکړ، د استاد سیاف پلان یې له نسبي ناکامي سره مخ کړ.

که خبره د حکومت سره د مرستې او وفادارۍ وي، نو همدغه د مجاهدینو په نوم شورا خو تیر ۱۴ کلونه له کرزي سره یوځای و، کرزي څخه یې زښت زیات امتیازات ترلاسه کړه، اوس چې غني لږ امتیازات ورته ومنل د کرزي

ځنګ یي پرېښود، په دغسي کسانو به نړیوال او په ځانګړي ډول امریکایان او بریتانویان څه ډول اعتماد او باور وکړی، زما په آند چي غني به یوځل بیا همدوی وغولوي، او تښي وعدي به ورسره وکړی، خو عملي به یي نه کړي.

## که له طالب سره جګړه کوونکی مجاهد وي؟

که له طالب سره جګړه کوونکي ته مجاهدویل کیږي ، دادی عملا د کورنیو چارو وزیر او دفاع وزیر د جګړي قومانده په لاس کي لري، عبدالرشید دوستم په فاریاب کي له طالبانو سره په جګړه کي خپله عملا برخه واخستله، بیا خو همدغو پخوانیو کمونستانو ته هم مجاهدین ویل کیږي، او یواځي هغه کسان مجاهدین نه ګڼل کیږي چي پخوا یي له کمونستانو سره جهاد کړی.

که له روسانو سره جنګیدونکو ته مجاهدین ویل کیږي نو بیا خو د پخوانیو مجاهدینو ډیر ی مشرانو د طالبانو سره د جګړي پر مهال له روسانو، ایران او هند څخه مرستي ترلاسه کولي، تر کومه وخته به همدا مجاهدین همدوی ته کیږي.

او که د امریکا په مرسته له طالب سره جنګیدونکو ته مجاهدین چي اکثریت یي شمال ټلواله وه وویل شي بیا خو ملي اردو، ملي پولیس او ټول هغه کسان چي له طالب سره جګړه کوي، نو مستحق بیا ټول دي، نو یواځي څو تنه؟

امریکا به هیڅکله هم پر هغو پخوانیو مجاهدینو باور ونه کړي چي له روسیي سره د ښو اړیکو ریکارډ لري، او که بیا هم امریکا او غني دا باور وکړي، نو د مجاهدینو (استاد رباني) د حکومت پرمهال چي ۴ کاله یي پر کابل ښار کي حکومت وو، خو پر ټول کابل ښار یي واک نه درلود، له دوی نه به د امنیت او وسلوالو مخالفینو څخه د دفاع کوم ډول توقع وکولای شي، همدوی و چي طالبانو ته یي کابل پرېښود او د جګړي توان یي نه درلود.

داچي د امریکا او ناټو د ۱۵۰۰۰۰ عسکرو، نږدي ۳۰۰۰۰۰ قراردادي بهرني پوځیانو په شتون کي افغان جګړه یو طرفه نه شوه، اوس که همدا پخواني مجاهدین د ۵ زره څخه تر ۱۰ زره وسلوال برابر کړلای شي، آیا ممکن ده چي د جګړي لوری یو طرفه کړي؟ آیا ممکن به وي چي د بهرنیو پوځیانو او دولت مخالف وسلوال له منځه یوسي؟

مهمه خبره داده که اوسنی اردو، پولیس او امنیت له مخالفو وسلوالو سره د جګړي توان نه لري بیا د څه له پاره دوي ته معاش او امتیاز ورکول کیږی، باید رخصت کړل شي او پر ځای یي ملیشي تنظیم کړل شي

پخوانیو مجاهدینو د امنیت شورا په پریکړو کي ونډه غوښتي ده، خو له غني سره تر لومړی ناستي وروسته سمدستي د بریتانیا سفیره د استاد سیاف پوهنتون ته دهغه د لیدو له پاره ورغله، داچي ویل کیږي امینت شورا باندی بریتانیا نفوذ لري، همدا لامل به وو چي د بریتانیا سفیره به د استاد سیاف د خبرو سپیناوی ورڅخه پوښتلی وي، داچي بریتانیا او امریکا دواړه د مجاهد په نوم له هرچا څخه کرکه لري، فکر نه کیږي چي پخوانیو مجاهدینو ته به د زیات واک ورکول ورته د منلو وړ وي

ویل کیږي چي ولسمشر غني د مجاهدینو له شورا سره ژمنه کړي چي د سولي شورا مشرتوب به یونس قانوني ته ورکوي، دا ډول د بسم الله محمدي له پاره داچي امنیت شورا مرستیال شي او یا هم د شمال زون د نظامي چارو مشر شي، او تورن اسماعیل خان له پاره بیا د جنوب لویدیځ زون د ملکي او نظامي مشرتابه غوښتنه شوي، له دي سره د والیانو، امنیه قومندانانو او قول اردو د قومندانانو د ټاکلو واک به هم له دوی سره وي، که غني داخبره رښتیا منلي وي، نو بیا خو حکومت نور هم په ټوټو وېشل کیږي.

اشرف غني به مجبوره وي چي د مجاهدینو د شورا ځیني غوښتني ومني خو تر ډیره به ورسره چل وکړي، پر دوی به اعلان وکړي چي د ګډ حکومت د سمون او ملاتړ له پاره کار کوي، بیا به خپلي کړي ژمني ورسره عملي نه کړي.

### د جنګ پرځای د سولې له پاره امتيازات ورکول په کار دي

که همدا پخواني مجاهدين حکومت څخه امتيازات واخلي بيا به يې له کمونستانو سره د امتيازاتو پر سر نانډرۍ وي، اوس خو په مهمو چوکيو اکثريت پخواني کمونستان اوسنی لويديځ پلوه کسان ناست دي.

غني چې کوم امتياز پخواينو مجاهدينو ته د قلنګ په ډول ورکوي او باج به ورکوي، که همدې ته ورته امتيازات د سولې له پاره ومني، د سولې امکان شته.

سوله هغه وخت شوني ده چې رښتونولي او صداقت ښکېل لوري ولري، او هر لوری هڅه وکړي چې خپل دښمن همکار کړي، او له همکار کيدو وروسته د يو بل په دوست کولو فکر وکړي، که خبره د تسليميدو وي او هره خوا د جګړې د ګټلو دعوه کوي بيا سوله مشکل ښکاري.

داچې له څو لسيزو راهيسي افغانان په جګړو اخته دي، او د پرديو محتاج دي، عامل يې جګړه ده، که جګړه نه وای موږ به د امريکا، روس، هند، چين، ايران او پاکستان لاسپوڅي نه وای، موږ به د خپل هيواد د پرمختګ او ولس د ګټو له پاره کار کولای.

داچې امريکا د افغانستان د جګړې د ګټلو دعوه لري، نو بيا ولې ځوانان له هيواده په تېښته دي، ولې دلته ويره خپره ده، ولې هر ځوان له افغانستان څخه د وتلو هڅې کوي، امريکا ته په کار ده چې نوره خپله ماتې ومني، او د فاسدو او ناکامو رژيمونو ملاتړ پريږدي.

سولې ته رسيدو له پاره ځيني کارونه مهم دي چې وشي، داچې دواړو لوري هڅه وکړي تر څو د ځوانانو د وژني ګراف ټيټ کړلای شي او د وژنو پر مهال له احتياط څخه کار واخستل شي، داچې قومي، سيمئيز او ژبني تعصب ته لمن ونه وهل شي، داچې په جګړه کې د زياتوالي پرځای د کموالی هڅې وشي، داچې په رسنيو کې د دښمنۍ د زياتوالي په عوض د سولې له پاره د اذهانو د جوړيدو هڅې وشي، داچې د افغان ولس غوښتنې نړيوال او ښکېل افغان جهتونه په نظر کې ونيسي، داچې بين الافغاني تفاهم باندي باور ولرو، او بالاخره د سولې له پاره دواړه لوري قرباني ورکړي، د بهرنيانو د وتلو له پاره زمينه برابره شي.

### آيا پخواني مجاهدين يوه خوله دي؟

دجهاد له مهاله بيا تر نن ورځې د پخوانيو مجاهدينو خپلمنځي اختلافونو او تربګنيو ته په کتو سره ، او بيا د ولسي جرګې د مشرتوب له پاره د استاد سياف او يونس قانوني د اختلاف له امله چې ازبک تورکمه عبدالروف ابراهيمي د ولسي جرګې مشر  شو، د مجاهدينو شورا به هم تر ډيره وخته يوه خوله پاتې نه شي، خپلمنځي اختلافات به يې د امتيازاتو پر سر پيداشي.

لومړي موقت حکومت کې خو ډيره زياته ونډه د پخوانيو مجاهدينو وه، دوی ولې ونه توانيدل چې په ۲۰۰۴ ز کال کې د ولسمشريزو ټاکنو پر مهال خپلمنځي اختلافات ليرې کړي او په يوه خوله کوم کانديد ولري، تر لسو زياتو يې ځانونو ولسمشري چوکۍ ته نوماند کړي و، داچې کرزي انتخابات وګټل، هغه وخت کې همدې پخوانيو مجاهدينو ويل چې کرزی د امريکا لاسپوڅی دی، رايه مجاهدينو ته ورکړئ

د کرزي په دواړو دورو کې ځينو پخوانيو مجاهدينو يې په فساد، غلا او اختلاس کې لاس درلود، کله چې ولس پر چا بې باوره شي، بيا به څه ډول ممکن وي چې هغوی دی د حکومت په بنه والی کې مثبت رول ولوبوي.

اربکيان چې اکثريت يې د پخوانيو مجاهدينو زامن دي، د خپلو پلرونو کړني چې د کورنی جګړې پرمهال يې ولس په تنګ کړي و، د ولس څخه يې هغه هيري کړي، دوی لا زيات ظلمونه او فساد کوي.

او که خبره د پخوانیو مجاهدینو وي، بیا نو ډاکتر اشرف غني هم ځان مجاهد بولي، او دوستم خو وایي چې حضرت مجددي صاحب د خالد بن ولید لقب راکړي، ډاکتر عبدالله عبدالله خو له هیڅا ځان کم نه ګڼي، احمدضیاء مسعود بیا د احمدشاه مسعود ورور دی، انجنیر محمد خان خو د اسلامي حزب د استخباراتو مشر و، استاد محقق او سرور دانش د اهل تشیع جبهو مشران و، همدا ټول د حکومت لوړ پوړي غړي دي، بیا نو کومه اړتیا ده چې خلک ووایې چې مجاهدینو ته ونډه او امتیاز ورکړل شي. خبره یواځې د مجاهد او جهاد له نومه د امتیاز اخستلو ده، او هغه ډله چې له چوکیو بې برخې ده، د حکومت له امتیازاتو بې برخې ده، تر هغه به په ارام نه کیني تر څو دوی ته امتیازات نه وي منل شوي.

که خبره د اسلامي ګوندونو وی، اته ګوندونو څو میاشتي مخکي د غني د حکومت ملاتړ اعلان کړي، د محاذ ملي مشر پیر سید احمد ګیلاني، د نجات ملي مشر صبغت الله مجددي، کریم خلیلي، قطب الدین هلال، انجنیر وحیدالله سباوون، مولوي عبدالحکیم منیب، حاجی دین محمد، مولوي قلم الدین، انوري او ...

او که خبره د جهادي ګوندونو وي بیا خو اسلامي حزب چې حکمتیار یې مشر دی، اسلامي حزب چې مولوي محمد یونس خالص بابا یې مشر و، حرکت انقلاب اسلامي چې مولوی محمد نبي محمدي یې مشر و، او دا ډول جلال الدین حقاني هغه ډلې دي چې د جهاد ډیره ښه سابقه لري، ولي پر دوی ږغ نه کیږي چې د امنیت او سولې اړوند رول ولوبوي، معلومیږي چې خبره یواځې په حکومت کې د واک او امتیاز ترلاسه کول د مجاهد په نوم ده.

زما په آند پخوانیو مجاهدینو ته د ملیشوجوړولو امتیاز د جنګ د اوږدیدو په معنی ده، ددی پر ځای چې ملیشي جوړې شي که همدا د مجاهدینو په نوم شورا د سولې له پاره پر یوه هر اړخیزه طرحه کار وکړي، نتیجه به یې نسبتا ښه وي، او د سولې له پاره تر ټولو ښه داده چې پرداسي موقت حکومت هوکړه وشي چې حکومت، شمال ټلوالي، وسلوالو طالبانو او اسلامي حزب ته هم د منلو وړ وي.

څومره ستونزې او شخړې چې رواني دي د سولې د نشتون له امله دي، که سوله راشي سوله د ټولو ستونزو د حل مور ده، د سولې پر طرحه له موافقي وروسته نورې ستونزې په اساني سره حل کیدای شي.

## پخواني کمونستان ، پخوانی مجاهدین او امریکا پلوه افغانان جګړه نه شي ګټلای

پخواني کمونسټ، پخوانی مجاهد، طالب او د ۱۴ کلنې ډیموکراسي سرلاري باید خپلې تېروتنې ومني، د دوی د تیروتنو له امله ده چې موږ نږې ۴ لسیزې په جګړه کې اخته یو، د جګړې ګټې همسایه هیوادونه او نړیوال قدرتونه وړي، خو قرباني یې موږ افغانان یو.

که باور داوي چې حکومت به وسلوالو مخالفین له پښو وغورځوي، داچې نن د ولایتونو ډیر امنیه قومندانان او د قول اردوګانو ډیری مشران پخواني کمونستان دي، هغوی چې یوځل یې د مجاهدینو په لاس ماتي خوړلي، څه ډول تمه کیدای شي چې اوسنی جګړه به وګټي.

که خوشبیني وي چې پخواني مجاهدین د جګړې ډګر ګرم کړي او له مخالفو وسلوالو څخه به جګړه وګټي، هغوی چې دهمدي طالب څخه یې په ۱۹۹۶ ز کال کې ماتي خوړلي، او د جګړي توان یې د لاسه ورکړي و، د امریکا بمبارد او مرستي ته په تمه و، په تیرو ۱۴ کلونو کې یې د ناټو د عسکرو په شتون کې امنیت رانه وستلای شو، وسلوال مخالفین یې محوه نه شوای کړای، اوس به څه ډول وتوانیږي چې په ډیرو لږو امکاناتو د بهرنیو پوځیانو او افغان حکومت مخالف وسلوال محوه کړي؟

**له پرديو د سولې تمه تېروتنه ده**

که تمه داوي چي امريکا يا پاکستان دي مونږ ته سوله راولي، نو دا سوله نه کيږي، تر څو خپله افغانان خپلو منځو کې سره جوړ نه شي، له پرديو د سولې تمه کول تيروتنه ده، بيا داسي پردي چي هيڅکله يې د افغانستان ښه ورځ نه غوښتي او نه به يې وغواړي، بلکې د همدي هيواد له وګړو څخه د خپلو شرمونکو ماتو د غچ اخستو په هڅو کې دي تر څو چي مونږ افغانان د ګاونډيو هيوادونو له نفوذ څخه ځان خلاص نه کړو، بسيا کيدای نه شو، تر څوچي دافکر ولرو چي نور به مو ساتي، او د غلامي سوچ راسره وي، مونږ پرمختګ نه شو کولای، هر وخت چي پر خپل ځان د متکي کيدو باور ولرو، د ګاونډيو هيوادونو له نفوذ او د لويو ځواکمنو هيوادونو له غلامي د ځان خلاصيدو هوډ او پرسوله باوري شو، مونږ خپل هدف ته رسيدای شو

د سولې له پاره بايد مخامخ ليدني وشي، احمدشاه مسعود همدا کار وکړ، خو متاسفانه له طالبانو سره پر کړو ژمنو ددوی ترمنځ بې باوري پيداشوه، اوس هم د ګډ حکومت مشران کولای شي قرباني ورکړي، او په نظامي او سياسي برخه کې مخامخ ليدني وکړي.

پاکستان لا هم ممکن حرص لري چي د ډيورنډ سربيره د ننګرهار، پکتيکا، زابل، هلمند ، کندهار او ځينو نورو سرحدي ولايتونو ځيني برخې لاندي کړي، که په هيواد کي جګړه اوږده شي، نو پاکستان به په خپل پلان کې خامخا کامياب کيږي، او د افغانستان خاوره به لاندي کوي.

يوه مهمه يادونه داهم په کار ده چي سوله د جنګي ډلو ترمنځ کيږي، دلته لا هم د دولت په مشرتابه (ولسمشر) کې د جنګي ډلو مشران نه دي راغلي، د جنګي ډلو مشران په تيرو ۱۴ کلونو کې د سولې له خبرو څخه ګوښه ساتل شوي، زه باوري يم که د طالبانو او مارشال فهيم ترمنځ مخامخ خبرو ته زمينه برابره شوې وای، ممکن د سولې له پاره ښه پرمختګ شوی وای، اوس هم په کار ده چي د جنګي ډلو د مشرانو ترمنځ مخامخ خبرو ته زمينه مساعده شي.

***يادداشت:***

***همان طوری که بارها نګاشته ايم و تاريخ هم بر قضاوت ما صحه ګذاشته است، خلقی - پرچمی ها هيچ رابطه ای با کمونيزم نداشتند. آنها يک مشت جواسيسی بودند که جاسوسی شان را در زير نقاب به اصطلاح ترقی و پيشرفت انجام می دادند. اين که هنوز هم عده ای پافشاری دارند تا از نوکران روس اشغالګر به نام کمونيست ياد کنند، هرګاه عدم فهم برخی ها را در اين قضاوت ناديده بګيريم، بقيه عناصری که آګاهانه خلق و پرچم را کمونيست می نامند، همه و بدون استثناء نوکران "سی. آی. ای" اند که به دفاع و به نمايندګی از نظام حفظ مالکيت خصوصی، می خواهند جنايات تاريخی يک مشت مزدور را به رقيب تاريخی خويش نسبت بدهند.***

***ادارۀ پورتال AA-AA***